**Two Movements, one Way, two Larawian Khan Abdul Ghafar khan, Khan Abdul Sammad Khan Achakazi**

# دووه غورځنګونه، یوه لار، دوه لارویان خان عبدالغفار خان، خان عبدالصمد خان اڅکزی

**Shokat Tareen**[*]

**ABSTRACT:**

The article is entirely a deal about the rate played by khan abdul ghafar khan, and khan abdul sammad khan acakzai in freedom in movement in these lines it is also highlighted the relation ship between the two great fighter leaders which started in the end of 1947. More in this article also through light the early lives of both the leader and the parties like anjum e islah e afghan. Khudai khidmat and anjume e watan.

(۱) د اتلسمي پېړۍ په دويم نيمائي کښې د لوی امپراتور احمد شاه ابدالي تر مړينې وروسته احمدشاهي افغانستان هم خپل برهم او توان ونۀ ساتی او ورځ په ورځ د ناتوانېدو په لور روان شو. په ځانګړې توګه چې پلازمېنه د کندهاره څۀ و کابل ته انتقال شوه. داسې د آمو څخه د اباسين تر څنډو او د سيوۍ تر پراخو ډګرونو پورې ودې افغان سلطنت ته د هر لوري دښمنانو رامخه کړه. د پنجاب دلوري پنجاب يې سيکهانو هڅې پېل کړې چې تر اټکه را پورې وزي او د سيوۍ د لوري نوري نصير خان هم د مير احمد قمبراني څخه په ميراث کښې ور پاته افغان دښمنۍ له کبله خپلې دسيسې پېل کړې.

(۲) پنجابي سکهـ رنجيت سنګهـ په لړ کښې د لومړي ګام په توګه په اتلس سوه ديارلس (۱۸۱۳ء) کښې د اټک کلا ونيوله. تر کلا نيولو وروسته د سيکهانو پښې ورځ په ورځ ټينګېدې او افغان سلطنت ورځ په ورځ کمزوری کېدی. دا هګه دور دی چې د کال اتلس سوه ديارلس(۱۸۱۳ء) تر کال اتلس سوه اتۀ دېرش (۱۸۳۶ء) پورې افغانان او سيکهان يو له بل سره په خونړي جنګونو اخته وو، په دې دور کښې کشمير او ملتان هم د افغانانو د لاسه ووتل او رنجيت سنګهـ تر

[*] Additional Director Audit & Account Department of Secondary Education Govt Balochistan

اباسین را پورې وت، او په کال اتلس سوه اتلس (۱۸۱۸ء) کښې یې خېرت آباد ونیوی، انګرېزانو هم دا ټول حالات پارل او په پټه څُله یې خپل پلانونه جوړول او جاسوسي مشینونه یې افغانستان ته لېږل او سیکهان یې مخته کړي وو او تر شا یې دوی لکه غر داسې ولاړ وو. رنجیت سنګهه په کال اتلس سوه څلور دېرش (۱۸۳۴ء) کښې پېښور ونیوی او انګرېزانو هم اوس نېغ په نېغه لاس واچاوی، د کال اتلس سوه اتۀ دېرش (۱۸۳۴ء) د رنجیت سنګهه، برطانوي حکومت او شاه شجاع الملک تر منځ سې فریقي لوظنامې ګویا د احمدشاهي افغانستان لویه لمن پرې کړه، چې آن تر ننه پورې لا پرې پرته ده. او داسې انګرېزان د سیکهانو د لارې و خپلو مخو تر لاسه ته نژدې شو. لومړی انګرېز افغان جنګ، دویم انګرېز افغان جنګ او داسې نورو عملیاتو دا ټوله خطه د سیکهه افغان کشمکش پر ځای په انګرېز افغان کشمکش واړوله او د سیکهانو نیول شوي سیمې د انګرېزانو و لاس ته ولوېدې. داسې یې بیا د محکمې پښتونخوا دا پراخ وطن په کال نولس سوه دوه (۱۹۰۲ء) کښې له پنجاب څخه بېله کړه او د صوبه سرحد ګمراه کن او ناروا نوم ورکړ. او د برطانوي هند په قلمرو کښې یې چیف کمشنر صوبه وګرځوله.

(۳) انګرېزانو که یوه خوا د افغان سلطنت د ناتوانه کولو په لړ کښې د پنجابي سیکهانو څخه پوره پوره کار واخست او تر اټکه پورې پښتون افغان خاوره یې د هند د برطانوي حکومت برخې وګرځولې نو د احمدشاهي افغانستان پر سهېلي څنډو یې هم نظر درلود او بدبختانه د سیکهانو کردار تر ډېره حده بروهي وروڼو ولوباوه. لومړی یې د کال اتلس سوه یو کم اتیا (۱۸۷۹ء) د امیر یعقوب خۀ د ګنډمک د لوظنامې لاندې د سهېلي افغانستان ډېرې مهمې سیمې پښین، سیوۍ او دکۍ سیمې پرې کړې او په کال اتلس سوه اووه اتیا (۱۸۸۷ء) کښې یې و دې پښتون افغان سیمو ته د "برطانوي بلوچستان" ګمراه کن او ناروا نوم ورکړ، حالانکې تر دې وړاندې چې به انګرېزانو چرې هم کومه سیمه ونیوله، نوم یې نۀ بدلاوه، یوازې به یې توری "برطانوي" ورسره اضافه کړ. لکه برطانوي هند، برطانوي ګانه او داسې نور. سر اولف کیرو وایي چې دا باید "برطانوي افغانستان" وای. بیا یې د سهېلي افغانستان قبائلي برخې ږوب، بوری، هندوباغ او ځیني بلوځي سیمې هم د دې برطانوي بلوچستان برخې

وګرځولې. داسې يې د سهېل د لوري هم افغان سلطنت پرې کړ چې تر ننه پورې لا پرې پاته دی.

(۴) لکه څنګه چې وړاندې لږ غوندې تفصيل بيان کړل شو چې د محکمي پښتونخوا دا دوې برخې په يوه جلا جلا محيط او حالاتو کښې را جلا شوي او هم يې سياسي او ټولنيز پر مختګونه د يو بل څخه جلا جلا دي، يعني په اصطلاح شمالي پښتونخوا کښې د سهېلي پښتونخوا په پرتله سياسي، ټولنيز، تعليمي، اقتصادي پرمختګ هم ډېر د وړاندې پېل شوی ؤ، او تر ننه پورې هم دغه توپير دوام لري.

(۵) خان عبدالغفار خان په کال اتلس سوه نوي (۱۸۹۰ء) کښې وزېږېدی. په دغه وخت کښې په شمالي پښتونخوا کښې د پوهي رڼاوي تر ډېره حده خورې شوي وي، د خپلواکۍ جګړه پېل شوې وه، د کانګريس تر جوړېدو وروسته په هند کښې بېلا بېل سياسي غورځنګونه پېل شوي وو. د انګرېزانو د لاسه د هند د خلګو ژوند ډېر زيات تريخ شوی ؤ، او داسې د هندوستان په اولس کښې د خپلواکۍ د مبارزې تنده لا زياته شوې وه. د خان عبدالغفار خان پر ژوند خپلې ژوري اغېزې شيندلي وې، بيا تر دې وروسته د لومړي جهاني جنګ د کال نولس سوه شل (۱۹۲۰ء) د هجرت او خلافت غورځنګونو د باچا خان د انجمن اصلاح افغنه و جوړښت ته لار هواره کړه.

(۶) خان عبدلاصمد خان اڅکزی په کال نولس سوه اووه (۱۹۰۷ء) کښې وزېږېدی او د محکمي پښتونخوا دا سيمه په هغه زمانه کښې د هند د ټولو سيمو په پرتله د پوهي، سياست او اقتصاد په لحاظ ډېره وروسته پاته وه. د سياسي پوهي څرک تر لېري لېري پورې نهٔ ليدل کېدی. انګرېزانو د خپلو لاس پوڅو خانانو، ملکانو او نوابانو د لارې خپلې چارې تر سره کولې. او د جرګې ډېر د ظلم او زور نظام يې وضح کړی ؤ. تر کال نولس سوه دېرش (۱۹۳۰ء) پورې څهٔ داسې ړغ نهٔ ؤ پورته شوی چې و سياسي چارو ته يې لاره هواره کړې وای. ځکه نو د خپلواکۍ مبارزه د شمالي پښتونخوا په پرتله په سهېلي پښتونخوا کښې وروسته پېل شوې وه.

(۷) نولس سوه يويشتم (۱۹۲۱ء) کال د محکوم پښتونخوا وطن سره سره د ټول افغان وطن له پاره د يو داسې بدلون کال ؤ چې يوه پېړۍ وروسته نن يې هم

موږ ثمرات تر لاسه کوو. په دې کال فخر افغان خان عبدالغفار خان پخپل کلي اوتمانزیو کښې د لومړۍ خپلواکي، قامي مدرسې تاداو کښېښود چې یو ډول د کال نولس سوه یوولس (۱۹۱۱ء) د کاکاجي صنوبر حسین مومند د پېل کړل شوي کار تسلسل ؤ. بابا وایي:

"موږ په نولس سوه یویشت (۱۹۲۱ء) کال کښې د دوستانو په امداد په اوتمانزو کښې د آزاد سکول بنیاد کښېښود، په دې کار کښې قاضي عطاالله، میا احمد شاه، حاجي عبدالغفار، محمد عباس، عبدالاکبر خان اکبر، تاج محمد خان، عبدالله شاه او کادم محمد اکبر زما ملګري وو. د مدرسې تر څنګ یې موږ د پښتنو د غلطو رسمونو او رواجونو د اصلاح کولو د تششد نه د منع کولو او په کښې د قامولۍ د مینې او محبت د پیدا کولو غرض د "اصلاح افغنه" په نامه یو انجمن جوړ کړی ؤ."(۱)

خو د انګرېزانو د پاره دا عمل چرې د قبول وړ ؤ، ځکه یې سم دستي د دۀ پلار بهرام خان را وغوښت او ورته یې وویل چې ستا زوی دا څۀ کیسې شروع کړې دي. بابا وایي

"سر ایمیلټن ګرانسټ زموږ د صوبې چیف کمشنر ؤ، هغه زما بابا وغوښتو، ورته یې وویل چې دا زوی دې څۀ کارونه کوي؟. ټول خلګ غلي ناست دي او دی لګیا دی مدرسې جوړوي او دورې کوي، زموږ خلاف خلګ لمسوي، منع یې کړه، د دۀ سکتر سعدالله خان د عمرزو یو خان ؤ، هغۀ مي بابا ته ویلي وو چې تۀ ګوره چیف کمشنر ستا څومره احترام کوي؟ څومره چې ستا مني، دومره د چا نۀ مني، تۀ د دۀ د خوشحالۍ د پاره خپل زوی منع کولی قدرې نۀ شې؟ بابا مي راغی زۀ یې کښېنولم، راته یې وویل، چې زویه! دې کارونو نه لاس واخله، ځان دي په مصیبت اخته کړی دی، سرکار هم خفه کېږي چې نور څوک یې نۀ کوي تۀ یې څۀ کوې؟ ما ورته وویل، ښۀ دی بابا. چې تۀ وایې مه یې کوه نو نۀ به یې کوم. ډېرو خلقو مونځ پرې ایښی دی زۀ به یې هم پرېږدم، خو تۀ به بیا ماته نۀ وایې چې مونځ ولي نۀ کوې؟ بابا مي راته وویل چې لمونځ خو فرض دی، ما ویل بابا! دا علم خو هم فرض دی. بابا مي وویل، ښۀ نو ځه کوه یې. بیا چیف کمشنر له ورغی او ورته یې وویل چې صاحبه! موږ ستاسو د خوشحالۍ دپاره د خپل دین نۀ شو پرېښودلی"(۲)

(۸) لکه څنګه چې د شاه غازي امان الله خان د باچهي دورې د آزاد افغانستان سیاسي ټولنیز وضع یو مخ بدله کړه او په ځانګړې توګه د یورپ تر اوږدې دورې وروسته د ټول جهان پاملرنه د افغانستان په لور راوښتې وه، هم داسې محکومه پښتونخوا یې هم تر خپلې ځانګړې اغېزې لاندې راوړې وه. او د محکومي پښتونخوا د دواړو شمالي او سهېلي برخو قبائلو ړون آندو مخورو خلګو د نوي افغانستان د خپلواکي باچهي او خپلواک باچا هر ډول کومک او ملا تړ کاوی، هم دغه سیاسي او ټولنیز حالاتو چې د دې دواړو مشرانو خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان اڅکزي سیاست یې یو بل ته بزدې کړو. که څۀ هم خان عبدالصمد خان اڅکزی په دغه وخت کښې لا تنکی ځوان ؤ، خو چونکې د دۀ کورنۍ د برخوردار خان اڅکزي د وخته یو وطن دوسته کورنۍ پاته شوې وه او د افغانستان په ښۀ او بد کښې هر وخت په لومړي قطار کښې درېدلې وه، ځکه یې د کال نولس سوه اتۀ ویشت **1928**ء د شاه په ضد د دسیسو او شورش د پېل کېدو سره سم د افغانستان و تګ ته چمتو شوي وو. البته فخر افغان خان عبدالغفار خان باچا خان بابا تر دې وړاندې د پښتنو د اصلاح او خوانده کېدو د پاره د "انجمن اصلاح افاغنه"تاداو ایښی ؤ، د شاه په ضد شورش په حقله فکر افغان بابا وایي

"څه وخت چې افغانستان کښې شورش پیدا شو دا انقلاب نۀ ؤ شورش ؤ. امان الله خان قندهار ته لاړو، په کابل بچه سکاو قبضه وکړه، انګرېزي اخباراتو د افغانستان برخلاف قصې، طعنې او خوشحالۍ شروع کړې، نو زۀ پوهه شوم چې هر کله پیرنګیان په افغانستان کښې د پښتنو ترقي ته کتی نۀ شي نو موږ به ترې دلته په سرحد کښې څۀ ترقي وکړی شو او فوراً مي دا اراده وکړه چې په دې راز پښتانه پوهه کول پکار دي او دوره مي شروع کړه کلي په کلي ښار په ښار او علاقه په علاقه وګرځېدم، جلسې مي وکړې، د خدای په فضل ټول پښتون یکدم د خوبه را بیدار شو، پوهه شو او د خپل قوم تباهي او بربادي یې محسوسه کړه او د افغانستان د خدمت د پاره یې ملا وتړله "(۳)

لکه څنګه چې ما وویل د شاه د مرستي او ملا تړ د پاره د سهېلي پښتونخوا اولس هم په بیداري کښې ؤ. په دې لړ کښې خان عبدالصمد خان اڅکزي و افغانستان ته د تګ هڅه وکړه نو د کورنۍ د پنځلسو نورو خانانو سره انګرېز

سرکار د کال نولس سوه نویشت (۱۹۲۹ء) د اپریل په میاشت کښې د کوټې په پولیس لاین کښې د اتۀ ویشتو ورځو له پاره بندیان کړل. خان عبدالصمد خان اڅکزی وايي:

"د شلو یویشتو کالو ځوان وم خو ځکه چې په کورنۍ کښې ډېر کشر وم دا هیله مي نۀ وه چې د کورنۍ مشران به مي ملګري وکړي نو یوازې مي د ځان سره دا جوړه وکړله چې زۀ به ولاړ سم او پر پوله به څو روځې تېري کم نو نور خلګ که د چا زړۀ غوښت به خپله حان را ورسوي، په کور کلي مي هیڅچا ته ږغ ږوغ نۀ وکړی تر دې چې خپل مشر ورور مي لا هم نۀ ؤ خبر کړی، توپک، کارتوس او لس زره روپۍ مي برابري کړې، آس مو ؤ د غرمې دوې بجې مي آس را روان کی چې زین یې کم نو به روانېږم، ماښام به د اوغانستان و خاوري ته ځان رسوم. په دې کښې مي یو تربور ښاغلی عبېدالله خان چې ځوان او زموږ د لارې او ډلي سړی ؤ په مخه راغی او وې چې څۀ کوې؟ ما دروغ نۀ سو ورته ویلی ومي ویل هسي آس زینوم، خبر نۀ یم چې زما په رنګ راز کښې په چل ؤ که څنګه، د هغه شک پیدا سو راته ټینګ سو چې رښتیا به راته وایې په پای کښې ما لوظ ترې واخست چې نن روځ به چاته ږغ نۀ کوې او ټوله خبره مي ورته وکړه. هغه ویل چې دومره آن راته وګوره چې زۀ هم توپک راواخلم او آس را ولم او زۀ دي هم مل یم"(۴)

داسې چې کله فخر افغان بابا د سرحد فرنګي سرکار و افغانستان ته د تګ اجازه ورنۀ کړه نو دۀ د سهېلي پښتونخوا د لارې هڅه وکړه، خو د سیوۍ د ریل ګاډۍ د استېشن څخه یې ښېرته د جیکب آباد په لور استولی ؤ. دا د خان عبدالغفار خان او خان عبدلاصمد خان اڅکزي د محکومي پښتونخواد دې دوو جلا جلا سیمو د اولسونو تر منځ د لومړنۍ سیاسي اړیکو پېل ؤ. وروسته تر دې دغه دواړي سیمي په سیاسي اړیکو، لاکن په عین حال جلا جلا غورځنګونو یوې مخي او یوې لارې ضمینه مساعده کړه. خو بهرحال بالآخر شاه د کال نولس سوه نهه ویشت (۱۹۲۹ء) د مئ د میاشتي پر درویشتمه نېټه د چمن او کوټې د لارې د تل د پاره د افغانستان څخه مسافر شو.

(۹) د کال نولس سوه نهه ویشتم(۱۹۲۹ء) د دسمبر د میاشتي پر نویشتمه نېټه د پنجاب په ښار لاهور کښې د کانګریس ګوند کلنۍ غونډه وشوه. و دې غونډې ته خان عبدالغفار خان د خپلو ملګرو سره بلل شوی ؤ. دغه غونډه د خپل

ارزښت له کبله ډېره ارزښت ناکه وه. ځکه چې په دې غونډه کښې د هندوستان د بشپړه خپلواکۍ د غوښتني کرار داد پاس کړل شوی ؤ چې په نتيجه کښې يې سرکار ډېر وارخطا شوی هم ؤ. خان عبدالغفار خان باچا خان بابا وايي

"په دسمبر نولس سوه نهه ويشت (۱۹۲۹ء) کښې په لاهور کښې د کانګريس سالانه جلسه وه، او چونکې لاهور سوبه سرحد ته ډېر نزدې ؤ په دې وجه د صوبه سرحد ډېر خلک د کانګريس د جلسې ليدو له پاره لاړل. ما او امير ممتاز خان زموږ د آزاد سکول هيډ ماسټر د تللو اراده وکړه. موږ کانګريس کښې نۀ وو، موږ په خلافت کښې وو، او موږ تماشې له تللي وو، د کانګريس جلسې زموږ په ځوانانو ډېر ښه اثر وکړو. او بيا دې خبرې پرې ډېر اثر وکړو چې ځوانان خو پرېږده د هندوانو جينکو هم د ملک د آزادۍ او خدمت د پاره ملا تړلي ولاړي دي. موږ هم د کانګريس په پنډال کښې ځای په ځای وګرځېدو، موږ چې د جينکو رضاکارانو دا قومي جذبه وليده نو د دې نه ډېر متاثر شو"(۵)

هم دې غونډې ته خان عبدالصمد خان اڅکزی هم تللی ؤ. خان عبدالصمد خان اڅکزی د دې غونډې په حقله وايي

"په لاهور کښې مو يوه هوته د ګڼو قامي ډلو کانګريس، خلافت، نوجوان بهارت سبها، کهيرتي کسان غونډې وکتلې او نندارتون هم، ډېر قامي مشران مو وليدل او زياتره وېناوي مي واورېدې، زۀ خو به نزدې ټوله روځ او د شپې هم تر ډېره د راوي پر غاړه د کانګريس په کيمپ کښې وم، د خلګو جوش، آزادي او بې باکي چې مي وليدله او د کار پر لاړ او رو کښې مي پام وکی نو ځکه چې زما خپل ځاني اټکل سره نزدې ؤ نو مي د ځان له پاره او د خپل هېواد له پاره روڼا جيني واخسته. دا هر څۀ مي د لېري کاته او اروېده، په دې ټول هوته کښې د هيڅ قامي مشر سره نۀ ليدلي او نۀ مي کوشش کړی دی، نۀ مي څوک پېژانده هم. په مشرانو کښې مي د ښاغلي سيف الدين کچيلو او ښاغلي صنوبر حسين مومند وېناوي ډېري خوښي سوې. ځيني پښتانه ايله جاري (رضاکار) او مشران به مي ليده خو نۀ مي پېژانده او نۀ ور نزدې سوی يم، وروسته مي په اخبار کښې ليدل چې باچاخان او د روح ګڼ مشران هم غونډې له راغلي وو"(۶)

دغه غونډې د محکومي پښتونخوا د اولسونو تر مابین سیاسي فکر ته وده ورکړه او ښه یې سره را نژدې کړل. چې وروسته د انجمن اصلاح افغنه خدائي خدمتگار او انجمن وطن بلوچستان تر مابین و ګډ کار لاره هواره کړه.

(۱۰) آخر هغه وخت هم راغی چې د دې دواړو لویو باباګانو تر مابین لومړی دید وشو، او داسې په محکومي پښتونخوا کښې د فرنګي په ضد منظمه سیاسي مبارزه ډېره پیاوړې شوه چې پایله یې د فرنګي څخه د محکومي پښتونخوا خپلواکي شوه. د کال نولس سوه یو دېرش (۱۹۳۱ء) د جولائي په میاشت کښې خان عبدالصمد خان اڅکزی هندوستان ته ولاړی او هلته د پنځلسو ورځو د پاره د ګاندهي جي پاته شو. په هم دې وخت کښې خان عبدالغفار خان هم د ګاندهي د لیدو د پاره هندوستان ته تګ کړی ؤ. خان عبدالصمد خان اڅکزی "د باچا خان او د نورو پښتنو لیډل" تر سر لیک لاندې لیکي.

"هم په دغه وار یو روځ ګاندهي جي ور وبللم ویل سبا له باچا خان سهار په ریل کښې راځي، تهٔ او دیوداس چې د روح (سرحد) د دورې راغلی ؤ ته‌یسن له ورځئ، مونږ ته‌یسن له ورغلو، باچاخان، ښاغلی امیرمحمد خان لالا او میا احمدشاه راغلل. باچاخان ما دلته په لومړي ځل ولید. احمد شاه میا خو بل ځای هوټل ته ولاړو، باچاخان او خان لالا د ګاندهي جي ځای له راغلو. باچا خان هم زما په کمره کښې دېره سو او خان لالا هوټل ته ولاړ. په لومړي روځ دوو زهٔ د باچاخانه ډېر تنګ سوم ځکه چې دی له مانه ډېر مشر ؤ او ما به د کشر په توګه د دوی خسمانه او څهٔ وړوکي کارونه کول غوښت خو دوی به زهٔ دې ته نهٔ پرېښوولم او لا به یې زما خسمانه کول غوښتل. کله چای راجوړي کړې کله بل څه، زهٔ به په دې ډېر شرمېدم خو په پای کښې زهٔ ډېر کلک سو نو سره بلد او خواږه سو. بیا خدای پاک دي دی تر ډېره ژوندی لري، وروسته بیا ډېر سره نژدې او کلک ملګري سو او لا یو"(۷)

خان عبدالغفار خان د کال نولس سوه نهه ویشت (۱۹۲۹ء) د ستمبر په میاشت کښې "د افغان یوتهـ لیګ" په نامه د خدای پاریانو (رضاکارانو) بنسټ لومړی لا ایښی ؤ، لاکن د دې د پاره یو نوم هم پکار ؤ ځکه تر ډېره ری وهلو وروسته د قاضي عطاالله په مشوره و دې ته د (خدائي خدمتګار) نوم کښېښودل

شو. دا یو ډول بل انقلابي اقدام ؤ چې د فرنګي سرکار د لاخبنم سوب وګرځېدی. او د کال نولس سوه دېرش (۱۹۳۰ء) د اپریل د میاشتې د ټول هند د تاریخ د قصه خوانۍ د خونړۍ پېښې په بڼه رامنځته شو. بیا داسې واقعاتو په تسلسل سره دوام وکړ او باچا خان به زیاتره په جیلونو کښې بندي کېدی او کله نا کله به نظر بند هم ؤ. چې دې حالاتو د کال نولس سوه اووه دېرش (۱۹۳۷ء) پورې دوام وکړ. کان عبدالصمد خان اڅکزی هم د کال نولس سوه دېرش (۱۹۳۰ء) څخه تر نولس سوه شپږ دېرش (۱۹۳۶ء) پورې مسلسل په بند کښې وساتل شو.

(۱۱) لکه څنګه چې وړاندې وویل شو چې د خان عبدالغفار خان او د خان عبدالصمد خان اڅکزي فکري او سیاسي نزدې والی د شاه امان الله خان له وخته پېل شوی ؤ بیا د کانګریس غونډې او په هندوستان کښې د دواړو لومړی دید اوس په سیاسي او فکري توګه د محکومي پښتونخوا د دې دواړو خطو قامي مبارزه نۀ دا چې سره را نزدې کړې وه، بلکې پیاوړې کړې هم وه، خان عبدالصمد خان اڅکزی چې څنګه په کال نولس سوه شپږ دېرش (۱۹۳۶ء) کښې له بنده را خوشې شو نو د سهېلي پښتونخوا په مرکز کوټې کښې د کال نولس سوه اتۀ دېرش (۱۹۳۸ء) د مئ پر شلمه نېټه د "انجمن وطن" په نامه د یو کالص سیاسي ګوند بنسټ کښېښود چې موخه یې د ټول هند بشپړه خپلواکي او په برطانوي بلوچستان کښې هغه ټول سیاسي اسانتیاوې چې د هندوستان نورو صوبو ته ورکړل شوي وې تر لاسه کول ؤ. وروسته ورسره یې د "خدمتګاران وطن" په نامه هم د خدای پاریانو د یو تنظیم بنسټ کښېښود، لاکن د خدای پاریانو پر دې ډله فرنګي سرکار ډېر بندیز ولګاوه.

(۱۲) خان عبدالصمد خان اڅکزی د کال نولس سوه یو کم څلوېښت (۱۹۳۹ء) د جنوري په میاشت کښې د خان عبدالغفار خان په بلنه او د هغه ګوند د کار کولو او کتلو له پاره د شمالي پښتونخوا دوره وکړه.

"پېښور له تګ باچاخان او د هغو ډله" تر سر لیک لاندې کاږي.

"څکه چې باچاخان ډېر ځله راته ویلي وو نو د دغه کال په سر کښې په ژمي د باچا خان د لیدو د هغوی د ډلي او د پښتنو د قامي کار د کتو د پاره پېښور ته ولاړم.دوې درې شپې مې د هغوی او د هغوی کشر زوی ولي خان سره وکړې، بیا د هغوی سره پیاده حیني شاوخوا هغو باندړو له ولاړو چې د هغه ځای غټو خانانو

د کلي شاوخوا خپل په مځکو کښې د اوسېدو له پاره وداني کړي وې، روځ مو د ډاکټر خان د زوی ښاغلي عبیدالله خان سره وکړله او شپه د ښاغلي سردار علي خان چې اوس د اسلامي ډلي مشر دی د مشر ورور ښاغلي سیف علي خان سره وکړله. بله روځ د جنوري شپږ ویشتمه او د هند د آزادۍ کالیځه روځ وه د هغوی سره مردان له ولاړم چې هلته د دوی ډېره لویه اولسي غونډه وه. د غونډې پس مي روځ د ښاغلي عطاالله خان سره تېره کړه، ماښام له بېرته اوتمانزو له راغلو او سبا له بېرته کوټې له راغلم. په دې پلا چې د روح (سرحد) د پښتنو کوم خویونه ما ولیدل په هغو کښې دا د خوشحالۍ خبره وه چې دوی یو مخ را ویښ سوي وو. او د آزادۍ جنګو ښه خوږه ورور ولي په کښې پیدا کړې وه. موږ چې د مردان غونډې له تلو او بیا راتلو نو په لارې تر ډېره ځایه نزدې تر منځلس میله پورې د بېلو کلو خلګ غوټه غوټه غونډې له روان یا را روان وو. د غوټو سره پخپل ډول او سورنا هم وه، په خلګو کښې هر شان او ژوند ؤ. خو له دې سره دا ډېره د خواشینۍ خبره هم ولیدله چې ټول خلګ کلي ښارونه او بانډې ډېر زیات په بدعملۍ اخته وو، روغه جوړه هیچرې هم نۀ وه. که خانان وو که خواران، که خدائي خدمتګار وو او که نور ټول، د خپله لاسه په ساخته زاوال کړاو او یره ترهه اخته وو، وسلې وې، توپک، توپنچې وې. بیا هم خلګو یو بل وژلو چې زما له پاره سخته د بې خوندۍ خبره وه. ولي چې زموږ په خوا د خدای په مهرباني دا بده نۀ وه او نۀ ما لیدلې وه. ځیني کسان به اودس ماتي ته هم په یوه دوه توپک والا څوکیدار ورسره او ورته ولاړ وو. او که به په ماجت کښې په لمانځه ولاړ وو هم چې تپوس به مي وکړی چې دا دښمن دار دی، هسي هم د ماښام پس هیڅوک نۀ په کور کښې بې پارې او څوکي بیدېدی سو او نۀ بهر را وتی سو. د اوتمانزو په کلي کښې یو وخت ماځیګر روڼا د یو خان ځای له ورغلو، لو کلا غوندي ځای ؤ، او د جیل شانته دنګه دروازه یې وه، په هغه کښې د جیل رازه د تګ راتګ له پاره یو ورګی هم ؤ، هغه مو وټکاوه، له دننه خوا د ورګي شاته یو سړي تپوس وکړی چې څوک یاست. باچا خان ورته وویل چې باچا خان یم. په خپل کلي کښې او شا او خوا باچا خان په خپل نامه نۀ یادېده، هر چا باچاخان باله ځکه به دوی هم ځان په دغه نامه یادوه. هغه سړی ولاړ، ښه دم پس یو بل ورسره راغی بیا تپوس وکړی او د بند ورګي تر چاک موږ وڅارلو"دا بل څوک درسره دی؟"باچاخان وویل "دا

زما مېلمه دی د کوټي راغلی دی" نو هلې ورګی لېږي کړی او موږ يې دننه پرېښودو. چې موږ ننوتو يو بل سړی د تيار او ډک ټوپک سره ولاړ ؤ، کمه شپه چې مو د سيف علي کره وه موږ ماځيګر ورغلو لږ وخت پس باچاخان تپوس وکړی "ريډيو لري؟"هغه ويل "زما د ورانه ده سړی به ولېږم د ورور د به راوړم او هغه به هم راولي." لا روښا روځ وه که ګورم توپکان راووته او درې څلور کسه نوکران تيار شو او ولېږل سو چې سردار علي سره د ريډيو راولي. زۀ تينګ نۀ سوم پوښتنه مي وکړه چې "دا څۀ دي؟ د هغوی کور کنې لېږي دی چې دونه تياري کېږي؟" ويل "نۀ، ميل دوه به وي، خو شپه ده، ميره ده تياري خو غواړي کنه". لږ دم پست هغوی راغله خو په داسې شان چې درې څلور نور وسله وال نوکران ورسره وو چې هغوی به بېرته هم تله، ماښام چې زۀ دباندې راووتم دوی کښې درو توپکوالو څوکيدارانو وږغولم چې څوک يې څۀ کوې؟ ما چې د باچاخان نه ځان له د دې دومرې بد امنۍ د پېلامې تپوس وکړی هغوی په لنډو کښې جواب راکړی چې دا ټول د انګرېز سرکار د ورانۍ سرشتې د لاسه دي. ما ږغ ونۀ کړی خو خبره مي زړۀ وانۀ خستله، که څۀ هم دا خبره هر ځای رښتيا وي په زياته په ځيني هولکو کښې چې سرکار ښه او بده سرشته د خلګو پر ژوند برېد کوي خو تر څو چې د خلګو په خوی بوی او ژواک کښې څۀ بنيادي پېلامې نۀ وي په زياته ګوزراني(اقتصادي) او د ګوزران د وېښ وراني نۀ وي د سرشتې په ورانۍ د خلګو په ژوند کښې پخې ورانۍ ځای نۀ سي نيولای او خپل سرکار خو هم د خلګو د شانه او ژواکه پيدا کېږي. نۀ پردی نۀ خپل هيڅ داسې سرکار نۀ جوړېدی سي او نۀ چلېدای سي چې د خلګو سره څۀ لږ يا ډېر وړ نۀ وي "(۸)

(۱۳) خان عبدالغفار خان د خان عبدالصمد خان اڅکزي په بلنه د کال نولس سوه يو کم څلوېښت (۱۹۳۹ء) د ستمبر په مياشت کښې د محکومي سهېلي پښتونخوا ډېره تاريخي دوره وکړه، په دې حقله خان عبدالغفار خان وايي

" د ډېري مودې نه زموږ د بلوچستان د ورونو دا خواهش ؤ چې زۀ دي بلوچستان ته لاړ شم، ما ډېر ځله کوشش وکړو خو حکومت نۀ پرېښودم. په دغه ورځو کښې عبدالصمد خان اڅکزی چې د بلوچستان د پښتنو رښتنی خدمتګار او رهنما دی په ما زور ولګولو چې بلوچستان ته لاړ شم"(۹)

دغه تاریخي دوره د ستمبر د میاشتي پر نولسمه نېټه پېل شوه. خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان په ګډه د سهېلي پښتونخوا سره سره د بلوڅو د ځینو سیمو دوره وکړه. په دې لړ کښې دې مشرانو په کوټه، لورالائي، ژوب، کلا سیف الله، هندوباغ، پښین، کچلاک، کلا عبدالله، چمن، ګلستان، مچهـ، سیوي او اوسته محمد کښې ډېري لویو غونډو ته ډېري تاریخي وېناوي وکړې. په کوټه کښې و غونډې ته د وېنا په وخت باچاخان وویل

"زۀ څۀ ځانګړی وېنا کوونکو نۀ یم بلکې د هندوستان د خپلواکۍ د جنګ د ګڼلو یو سپاهي یم. دا وخت د وېناوو نۀ دی، اوس د عمل وخت راغلی دی، د اولس د مرستي پرته هیڅ کار امکان نۀ لري. راشئ چې په ګډه خپل وطن د فرنګي د زور او ظلم څۀ آزاد کړو"(۱۰)

(۱۴) کال نولس سوه څلوېښت (۱۹۴۰ء) د سهېلي پښتونخوا په سیاسي تاریخ کښې ډېر د ارزښت وړ دی. دغه کال د ستمبر د میاشتي د پنځویشتم څخه اوویشتم نېټې پورې د لورالائي په تاریخي ښار کښې د انجمن وطن دویمه کلنۍ غونډه وشوه. ودې غونډې ته جواهر لعل نهرو او خان عبدالغفار خان او د بلوڅو درانه مشران هم راغوښتل شوي وو. خو د برطانوي بلوچستان انګرېز سرکار د جواهر لعل نهرو او باچاخان و صوبې پر راتګ بندیز ولګاوه. البته امیر محمد خان لالا او ارباب عبدالغفور خان په دې غونډه کښې ګډون وکړ. و کلنۍ غونډې ته پخپله وېنا کښې امیرمحمد خان لالا د خپلواکۍ په لاره کښې د سرکار د خنډونو په کلکه غندنه وکړه او د باچا خان بابا پیغام یې واوروی چې په کښې د فرنګیانو څخه د خپلواکي تر لاسه کولو دپاره د مبارزې پر توندوالي زور ورکړل شوی ؤ.

(۱۵) په کال نولس سوه یو څلوېښت (۱۹۴۱ء) د نومبر د میاشتي پر نهمه نېټه په اوتمانزو کښې د خدائي خدمتګارانو یو ډېر لوی کیمپ اوشو. و دې کیمپ ته د انجمن وطن مشران هم غوښتل شوي وو. باچا خان بابا وایي

"دغه شان د بلوچستان عبدالصمد خان اڅکزی سره د خپلو ملګرو راغلی ؤ، او دغسي د کیمپونو دا سلسله په ټوله صوبه کښې موږ جاري وساتله او خدائي خدمتګارو تربیت په کښې په ښه شان اوشو".(۱۱)

فضل رحیم ساقي پر دې موقع د خان عبدالصمد خان اڅکزي د هر کلي په لړ کښې یو منظومه سپاسنامه وړاندې کړې وه.

"د سرحد لویه مهمانه سترې مه شې
د پښتون د ژوند سامانه سترې مه شې

ټول جهان کښې دې ښکاره بلوچستان کړو
زمونږ عبدالصمد خانه سترې مه شې
تا بنیاد د انجمن د وطن کېښود
قامولي دې کړه روښانه سترې مه شې

لوی واړه دې د غفلت د خوبه ویښ کړل
اې رښتنی مسلمانه سترې مه شې

د وطن د آزادۍ د جنګ دپاره
شولې مخ کښې له هر چانه سترې مه شې

پښتانه دې د ذلت په ژوندون تنګ کړل
اې په خپل وطن قربانه سترې مه شې

ورور ولي عزیز داري دې جوړه کړله
له سرحد تر هندوستانه سترې مه شې

مړاوي بوټي دې تازه د حریت کړل
روحاني قومي باغبانه سترې مه شې

په الله دې توکل دی تنګیالیه!
یو قائل ستا په مړانه سترې مه شې

تا توره چې د اقبال کړله څرګنده
دښمن تښتي له میدانه سترې مه شې

زور او زر په تا اثر کولی نۀ شي
د زلمو روحِ روانه سترې مه شې

د عمل سبق له ځانه سره یوسه
له جناب فخر افغانه ستړی مه شې
ستا د سوز او ساز آواز لوی انقلاب شو
زر زر خور شو له طوفانه ستړی مه شې
ستا تحریک یو آخي آه د مظلوم ؤ
ظلم اور واخست له ځانه ستړی مه شې
لکه کان شي د ګوګوو دي وړي
لوګی خېژي له جهانه ستړی مه شې
ورته وړاندې لوی مزل او نری لار ده
د صراط د پل نه ګرانه ستړی مه شې

د ظالم په کور د مرګ چیغي ناري دي
زر به ورک شي له دنیا نه ستړی مه شې
رېګستان په یو ساعت کښې لاله زار شو
د پسرلي نام و نشانه ستړی مه شې
دا ګلونه د عبرت ځان سره یوسه
د سرحد له ګلستانه ستړی مه شې
هر کلی درته خدائي خدمتګار وائي
د ساقي له تت زبانه ستړی مه شې"(۱۲)

(۱۶) په کال نولس سوه یو څلوېښت (۱۹۴۱ء) کښې د فروري د میاشتي د اتمي څخه تر لسمې نېټې پورې د سهېلي پښتونخوا د ژمي په مرکز سیوی کښې د انجمن وطن دریمه کلنۍ غونډه وشوه او د معمول په څېر د خدائي خدمتګار مشرتابه ته هم د ګډون بلنه ورکړل شوې وه او یو وار بیا امیر محمود خان لالا په ګونډه کښې ګډون درلود.

(۱۷) د کال نولس سوه پنځه څلوېښت (۱۹۴۵ء) د اپریل د میاشتي په یویشتمه په پېښور کښې یو ډېر تاریخي سیاسي کانفرنس وشو او په دې

کانفرنس کښې د انجمن وطن مشرتابه د خان عبدالصمد خان اڅکزي په مشري کښې ګډون درلود.

(۱۸) دا هغه لنډه تاريخي خاکه وه په کوم محيط او چاپېريال کښې چې د محکومي پښتونخوا دې دواړي سيمي يو د بل سره په قامي مبارزه کښې سره يو ځای کړي وې او د بنو تر جرګې پورې د خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان اڅکزي ګډي قامي مبارزې نۀ يوازې د پښتونخوا اولس ته بلکې د ټول هند اولس يې د فرنګي د مريي توبه خلاص کړ. هم دغه سوب ؤ چې د ټول هند اولس دغه ستر باباګان د احترام په توګه د "سرحدي ګاندهي" او "بلوڅي ګاندهي" په نامه يادول او لا يې يادوي. او د دې دواړو باباګانو و خپل اولس ته د شلمي پېړۍ د هندوستان د سياسي تاريخ دوه بې جوړې کتابه "زما ژوند او جدوجهد" او "زما ژوند او ژوندون" پرېښودو.

## حوالې

(۱) زما ژوند او جدوجهد ، خان عبدالغفار خان، اشاعت دويم، کال ۲۰۱۲ ، امین پرنټنګ پریس پېښور ، مخ ۱۵۴
(۲) ایضاً ۱۵۴
(۳) ایضا ۲۶۸/۲۶۷
(۴) زما ژوند او ژوندون، خان عبدالصمد خان اڅکزی، لومړی ټوک، اشاعت کال ۲۰۰۴ ، العابد کمپیوټر ګرافکس کوټه، مخ ۳۳۶/۳۳۵
(۵) زما ژوند او جدوجهد ، مخ ۲۸۱
(۶) زما ژوند او ژوندون، دویم ټوک، مخ ۱۷
(۷) ایضاً، دویم ټوک، مخ ۲۸۸ تا ۲۹۰
(۸) ایضاً، مخ ۴۱۰
(۹) زما ژوند او جدوجهد ، مخ ۴۷۵/۴۷۴
(۱۰) تحریک آزادي میں انجمن وطن کا کردار ، مصنف، شوکت ترین، سال اشاعت ۲۰۱۶ ، سباؤن ریسرچ سینټر کوئټه، ص ۷۰
(۱۱) زما ژوند او جدوجهد ، مخ ۵۱۷
(۱۲) اووه ورځنی استقلال کوټه. ۵۱م فروري ۱۹۴۲